# د «پاتې شه باران دی!» ناول انتقادي څېړنه

# A critical analysis of the novel " Paty sha baran da"

Dr. Noorul Habib Nisar [1]

## Abstract

"Pate Sha Baran Day" (Stay! It is Raining!) is a well-known tragic novel by Ustad Mustafa Salik, which narrates the story of love, migration, social values and human emotions in a poetic and artistic style. This article examines the formal and thematic structure of the novel. The study evaluates the novel's title, theme, plot, characters, suspense, dialogues, language, imagery, philosophical and intellectual dimensions and social messages. Based on internal textual evidence and various examples, it is evident that the novel holds a distinctive place in contemporary Pashto fiction due to its strong narrative suspense, poetic prose, powerful imagery and deep emotional impact. The study shows that, alongside the tragedy of love, the author artistically addresses themes such as girls' education, environmental conservation, migration, and human values. Furthermore, readers' responses and the novel's literary influence demonstrate its wide popularity. The findings of the article indicate that "Pate Sha Baran Day" is not merely a story of failed love, but also an artistic representation of life, society and human experiences.

## Keywords

Tragedy, Literary Criticism, Plot, Characters, Suspense, Poetic Prose, Imagery, Philosophical Dimensions, Social Messages, Unfulfilled Love, Environmental Conservation, Migration and Jihad Literature, Human Emotions.

## سریزه

[1] Associate Professor Academy of Sciences (ASA) KabulAfghanistan



Pukhtunkhwa Journal

ناول د معاصر ادب یو مهم او اغېزناک ژانر او ټولنې، انساني ژوند، افکارو او احساساتو د هنري انځورګرۍ پراخ ډګر دی. په پښتو ادب کې ورته د شلمې پېړۍ له دويمې نيمايي راهيسې پام ور اوښتی، وده يې کړې او ګڼو ليکوالو د دې ژانر له لارې د ټولنې بېلابېل واقعيتونه، ارمانونه، ستونزې او ارزښتونه انځور لې دي. د پښتو معاصر ناول، په تېره د مينې، مهاجرت، جګړو، ټولنيزو بدلونونو او انساني تجربو د بيان يوه مهمه وسيله ده.

»پاتې شه باران دی» د استاد مصطفی سالک مشهورو ناول دی. د شاعرانه نثر، پياوړې تلوسې، اغېزناکو کرکټرونو او ژورو انساني عواطفو او احساساتو له کبله د پښتو ناول په تاريخ کې ځانګړی ځای لري. دغه ناول د يوې ناکامې مينې تر څنګ، د مهاجرت، ټولنيزو دودونو، د نجونو د زده کړو، چاپېريالي ارزښتونو او ملي يووالي په څېر موضوعات هم په هنري او اغېزناک ډول مطرح کوي. د ناول شاعرانه ژبه، د طبيعت ښکلي انځورونه، فلسفي تأملات او عاطفي فضا د دې اثر هنري ارزښت لا پسې لوړ کړی دی. له دې سره سره چې دغه ناول په لوستونکيو کې پراخ شهرت موندلی او څو څو ځله چاپ شوی، خو د شکلي او محتوايي ځانګړنو علمي او انتقادي ارزونه يې لا هم ډېره څېړنه غواړي. په دې مقاله کې هڅه شوې چې د ناول نوم، موضوع، پلاټ، کرکټرونه، تلوسه، ډيالوګونه، ژبه، انځورګري، فلسفي اړخونه او ټولنيز پيغامونه انتقادي او تحليلي وڅېړل شي، چې ادبي ارزښتونه او ځانګړتياوې يې لا ډېرې روښانه شي.

د يادونې وړ ده چې دغه ناول دانش خپرندويې ټولنې لومړی ځلا پر ۲۰۰۰م کال په پېښور کې خپور کړی او تر دې مهاله څو څو ځله په کابل او پېښور کې چاپ او خپور شوی. ډېرو کسانو دغه ناول په يوه ناسته کې لوستی او ښايي يو وجه يې دا وي چې ليکوال يې له ګڼو رسنيو سره په مرکو کې ويلي چې په يوه ناسته کې يې ليکلی، ځکه چې په کوم شور او هيجان پيل شوی، په هماغه شور او هيجان مخ ته تللی او بشپړ شوی دی.

**شننه او ارزونه**

دکتور سيروس شميسا وايي: داستان يا ناول هغه اثر دی چې په نثر کې روايت کېږي او پر جعل او خيال مبتني وي. که اوږد و، رمان يې بولي او که لنډ و، لنډه کيسه يې ګڼي. ناول انګرېزي اصطلاح ده. معادل يې په زياترو اروپايي ژبو کې رمان دی. د ناول د انګرېزي کلمې اصل ايتاليايي دی- د تازه ووړ مطلب معنا لري. Novella چې په ۱۴مه پېړۍ کې په ايتاليا کې دود و، د منثورې وړې کيسې يو ډول دی. (۱) (شميسا. (۱۳۸۹). ۱۶۴مخ).

«پاتې شه باران دی» د مينې يوه ډېره دردوونکې کيسه ده. اصلي کرکټرونه يې ځانګه او غزن دي. په ښوونځي کې يې مينه سره پيدا او دومره ژوره شي چې غزن په رواني رنځ اخته شي. د کيسې راوي پخپله غزن دی. له فلسفې، ادبياتو او موسيقۍ سره خاصه علاقه لري. دی خپله کيسه ډېره دردناکه، مګر انځوريزه بيانوي او ځای ځای په کې دا فوکلوريکه سندره وايي چې:

دا چار چاپېر په غرونو راغلل بارانونه ياره،

رېلې ورېږينه،

مه ځه، دلته شپه وکه، پاتې شه باران دی!

دا سندره د ناول په هیجاني صحنو کې بیا بیا ویل شوې ده.

څانګه له دولسم ټولګي څخه تر فراغت وروسته تعلیم پرېږدي او د سپین غره په لمنو کې خپل کلي ته ځي. غزن چې هلته ورشي، خبرېږي چې پلار يې هغه د ولور په لالچ کې په يوه بوډا بزګر واده کړې ده. څانګه د ناول په وروستۍ صحنه کې همدا سندره وايي او غزن ورسره په دومره جوش رباب غږوي چې تارونه يې وشلېږي او دی بې هوښه شي او چې سترګې وغړوي، ګوري چې په خيبر هسپتال کې دی، ډاکټران يې سر ته ولاړ دي او ملګری يې، زمرک، ورسره دی!

د خپرندويې ټولنې په يادښت کې د ناول نامه ته له اشارې سره راغلي چې دا منظومه جمله پخوا د يوې پښتو سندرې برخه وه، خو اوس د هغه يوه پښتو کتاب نوم دی چې د ليکوال يې پېژندګلوي ورسره کېږي. (۲)

پر هرې ليکنې، په تېره پر لنډې کيسې او ناول د نامه ړدول ډېر دقت غواړي. کيسه ليکوال او ناول ليکونکی نصير احمد احمدي وايي چې د ناول «نوم بايد يوه تلوسه ولري- معنا په کې نغښتې وي او لوستونکی ورجذب کړي. نوم د کتاب په پلورلو کې هم بې اغېزې نه دی.» احمدي «پاتې شه باران دی» نامه ته له اشارې سره وايي چې «دا نوم پخپله يوه مرموزه تلوسه لري- يو شاعرانه کيفيت په کې پروت دی او لوستونکی هڅوي چې کتاب تر پايه ولولي.» (۳)

د احمدي په وينا، د ناول «ښه او کامیابه موضوع هغه ده چې د ډېرو خلکو په ژوند پورې يا په مستقيم او يا هم غير مستقيمه توګه اړه ولري.، خلکو ته د هغوی خپلې او يا هم د نورو خاطرې ور په زړه کړي او خپل اوسنی او يا هم تېر ژوند په کې ووينې. پاتې شه باران دی نومی ناول په يوه پاکه مينه راڅرخي- مينان ستونزېويني او بالآخره په شکست ختمېږي.» (۴) احمدي وايي چې «ښاغلي سالک د ناول لپاره يوه ښه موضوع انتخاب کړې او له يوې نوې زاويې يې کيسه پرې کښلې ده. په دې ناول کې ډېر خلک خپل ژوند کتلی شي. ځوانانو ته اوسنۍ خاطرې وريادوي او په عمر پاخه خلک هم خپلو پخوانيو يادونو ته ورګرځوي. ځکه نو د دې کتاب د لوستونکو د ډېروالي يو قوي علت شايد دا وي چې د هر عمر لوستونکي يې خوښوي او په مينه يې لولي.» (۵)

د بريالي ناول يوه ځانګړتيا دا ده چې په ښکليو او زړه راکښونکيو جملو پيل شوی وي چې لوستونکی له ځانه سره واخلي. پاتې شه باران دی له دې ځايه پيلېږي: «داسې ورځ به کمه راتله چې زه دې ټولګي ته راشم او د هغې سندره دې وانه ورم. هغې به هره ورځ سندره ويله. په پيل کې خو به د هغې پر شونډو موزون کلمات زما لپاره يوه عامه سندره وه، خو د وخت په تېرېدو د هغې سندرې زما لپاره يو نوی خوند پيدا کړ. زما احساسات به يې داسې په لړزه راوستل لکه د غره وياله چې په خپله نرمه او غلې سندره د خپلو غاړو نازک واښه په نڅا راولي.» (۶)

بصیرالحق عادل وايي: «په پښتو ژبه کې مې لسګونه ناولونه لوستي دي، ورته ژړلي مې دي، خندلي مې دي، له کاره یې ایستلی یم او ... خو دوه ناولونه چې کیسه یې هر وخت زما تر سترګو سترګو کېږي، نه مې هېرېږي او تر څلورو کالو تېرېدو وروسته هم داسې احساس کوم چې ناول مې تېره شپه لوستی دی. په ناول کې انځور شوې ټولې صحنې راته مخامخ شي او بالآخره، زړه مې تکان وکړي.» (۷)

د لنډې کیسې او ناول یو مهم توپیر دا دی چې د لنډې کیسې تمرکز پر یوې نکتې وي او ناول د کیسې ټول اړخونه بیانوي. د خپرندویې ټولنې په یادښت کې لولو چې د پاتې شه باران دی ناول «د کیسې پلاټ، تلوسه، ډیالاګونه او نور د پام وړ دي، خو دا کتاب د کیسې لپاره خپله داستاني ژبه لري چې ساده، روانه خو د هنري تخنیکونو له مخه شاعرانه او پېچلې ده.» (۸) د سحر یوسفزي په وینا، ښه ناول د یوې ژوندۍ ټولنې تاریخ دی، خو  چې د ناول لیکوال د ناول هرې پېښې او د هرې پېښې د پهلوان نفسیاتو ته د خپلو تجربو په رڼا کې ښه ژور وکوري او تر هغه وروسته یې لوستونکیو ته وړاندې کړي. (۹)

په پاتې شه باران دی ناول کې پېښې داسې پېیل شوې دي چې د علت او معلول د زنځیر کړۍ ښکاري. هر څه چې مخې ته راځي، وار له مخه ورته صحنه جوړه شوې وي او له لوستونکي سره د ناول له سره تر آخره دا پوښتنه پیدا کېږي چې داسې ولې وشول؟ مثلاً: د ناول اصلي کرکټر غزن یو ځای په خپل ټولګي کې د ناستې په باره کې وايي: «نورې نجونې او هلکان بهر ووتل. ما په ځان کې د وتلو تاب نه درلود، ناست پاتې شوم او ځان مې د فزیک د سوالونو په حلولو بوخت کړ.» (پاتې شه باران دی، ۲۹ مخ).

د ایراني محقق او منتقد ډاکټر سیروس شمیسا په وینا، لیکوال په کرکټر جوړونه کې دوې لارې لري: ښودنه (Showing) او روایت (Telling). د ښودنې په روش کې چې Dramatic Method یې بولي، کرکټر خبرې کوي او عمل کوي او لوستونکی د هغه د وینا او عمل تر شا د هغه انګېزه او احوال پخپله څنې استنباطوي، مګر د روایت او بیان په روش کې لیکوال پخپله له اقتدار او آزادۍ سره توصیفات کوي او ارزښتونه ټاکي او چې څه غواړي، د لوستونکي په واک کې یې ورکوي. (۱۰)

د پاتې شه باران دی ناول د کیسې کرکټر له فزیک سره لېوالتیا لري. څو مخه وروسته لولو: «د فزیک ښوونکی راننوت او له شاګردانو یې د هغوی د درسي ستونزو په اړه پوښتنه وکړه. ډېرو شاګردانو ویل: لومړي تمرینونه اسان او وروستي ګران دي. له پایه به د پیل په لور حرکت وکړو، خو ځانګې د ټولو مخالفت وکړ، ویل یې له پیله به د ستونزو هوارول ښه وي. زه که په الف پوهه نه شم، د ب ګردان به راته بې ګټې وي. خو بله خوا بغیر زما له ټولو د ځانګې مخالفت وکړ. استاد یوه شیبه غلی شو. بیا یې د ټولګي د پرانیستې دروازې له لارې د لېسې په منځ کې شنه چمن ته وکتل، شاګردانو ته یې مخ کړ او ورته یې وویل: مسأله به حل شي. د غزن له کورنیو کارونو راته اندازه لګېدلې چې په فزیک کې هم تکړه دی، که څه مشکلات نه لري، نو بیا دې غزن او ځانګه خپلې څوکۍ پورته کړي او د چمن په منځ کې د توت سیوري ته دې د ځانګې پوښتنو ته ځواب ورکړي او که کومه ستونزه رامنځ ته شوه، زه همدلته یم.» (پاتې شه باران دی، ۳۳.۳۴مخ).

له برنۍ بېلګې جوته شوه چې د دې پېښې لپاره هم وار له مخه صحنه جوړه شوې ده. له لوستونکي سره دا پوښتنه نه پيدا کېږي چې استاد په دا دومره زده کوونکيو کې له غزنه ولې وغوښتل چې د فزيک د تمرينونو په حلولو کې له څانګې سره مرسته وکړي! دغه راز، د کرکټرونو ډيالوګونه د هغوی له سوېې سره برابر دي. په پاسنۍ بېلګه کې ګورو چې ښوونکی او بل هر کرکټر له خپلې سوېې سره سم غږېدلی. خو د اصلي کرکټر غزن، چې د داستان راوي دی، ژبه شاعرانه او کله کله فلسفيانه ده. له دې سره سره چې غزن د ادب او فلسفې مينه وال دی، او دا يې وجه او جواز کېدلی شي، خو بيا هم دا اعتراض وربانديې کېدلی شي چې غزن د دولسم ټولګي شاګرد دی او په دغه عمر کې دومره شاعرانه او فلسفيانه ژبه او چلند ګرانه خبره ده.

پاتې شه باران دی ناول داسې يو داستان دی چې د تلوسې پيدا کولو لپاره په کې ډېرې غوټې پنځول شوې دي. يوه خو يې عمومي تلوسه ده چې له لوستونکي سره پيدا کېږي چې د غزن او څانګې د مينې نتيجه به څه راوځي؟ پر دې سربېره، په ناول کې نورې غوټې هم شته، چې يوه يې پرانېزي، بله يې رامخې ته کېږي او دا چار د ناول تر آخره روان وي. «تلوسه د کيسې د بهير د هغه رواني او فزيکي تړاو پايله ده چې هره مخکېنۍ برخه پرته له راتلونکې نيمګړې ساتي. همدا علت دی چې لوستونکی د پوره معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره کيسه تر پايه لولي او ورسره ورسره له هيجاني او له اټکله ها خوا پېښو څخه خوند اخلي... يوازې پېښې کولی شي تلوسه وزېږوي او زياته يې کړي.» (۱۱) په پاتې شه باران دی ناول کې لولو: «يوه ورځ چې ښوونځي ته ولاړم او د څانګې سترګې مې لکه د بزکشۍ آسونه په مستۍ کې ولېدې، نو پوه شوم چې د صبر واګې مې له واکه په وتو دي. ټوله ورځ نشه نشه وم، روايتي لاره مې غوره او نيت مې وکړ چې ليک ورته ولکيم، خو وېره هم راسره وه. ما ويل هسې نه چې وړاندې تر لوستلو مې ليک ونه څيري- خپه نه شي. که خپه شوه، په هر قيمت به يې پخلا کړم. خو که ليک مې د «ايمرجنسي» تر سرليک لاندې راغی، ښه به ونه شي، بلکې وبه شرمېږم. د ايمرجنسي اصطلاح زمونږ په ټولګي کې ځانګړې معنا لرله او هر څوک پرې پوهېده.» (پاتې شه باران دی، ۲۲ مخ). دا غوټه وروسته داسې راسپړل کېږي: «زمونږ د ټولګي نجونو ته کله کله همداسې محبتنامې راتلې. خو ټولو ژمنه کړې وه چې د ايمرجنسي په اعلان سره به يې د ټولو په مخ کې لولي، بيا به يې ټوټه ټوټه عاشق ته ورلېږي» (پاتې شه باران دی، ۲۷ مخ).

په دې ناول کې د تلوسې يوه بله بېلګه هم رااخلو. غزن او ملګری يې زمرک تيرا ته ځي. زمرک په حجره کې يوه تيراوال ته وايي چې سندره دې وربانديې واوري: «مونږ ستاسو مېلمانه يو. سندرې اورېدل غواړو. هغه مسکی شو او غږ يې کړ: سپين ګله! مېلمانه سندرې غواړي. سپين ګل آواز ورکړ: لږ صبر وکړه. څه ګورو چې سپين ګل د چرسو چېلم ته ناست و. غټ غټ برېتونه او له جلاله ډکه څېره يې لرله. سرې سترګې يې زمونږ په لور راواړولې او ويې ويل: تاسو سندرې اورئ، ماته هغه د لارې راډيو راياده شوه او د سپين ګل سرې سترګې راته مخامخ وې. زړه راته وويل، ورته ووايه چې نه، مونږ سندرې نه غواړو. خو چا آواز ورکړ: هو، همدوی وويل: ښه ده، نن به ښه آوازونه وربانديې واورم. خو کارتوس نشته، زه يې راوړم، تاسو دا کړکۍ بندې کړئ، غږ تر لرې ولاړ نه شي. ځوان ووت، زمرک له بله کټه رغی، ماسره کښېناسته، ويل يې لکه چې مرګ مو راغی؟! ما ورته وويل: مازيګر

دې ونه لېدل چې هغه لاروی یې د راډیو له غږولو منع کړ؟! دوی به الټبه زمونږ دا غوښتنه د ځان توهین ګڼلی وي؟! دواړه ښه وېرېدلي وو.» (پاتې شه باران دی، ۵۹ مخ).

دا غوټه وروسته داسې راسپړل کېږي: «زه لا په سوچونو کې ډوب وم چې زمرک مې پر ولي لاس کېښود، ویل یې: ته خیال پلو وهې څه به کېږي! د کارتوسو آواز، کړکۍ بندول، څه خو شته! هغه دا خبرې کولې چې د ټیپ آواز خراب شو، سپین ګل بند کړ. مسالې یې ترې راوایستې، په اور یې کېښودې. مونږ ته یې رامخ کړ، وېل: مېلمنو خپه نه شئ! دوکانونه بند وو، نوي کارتوس پیدا نه شول، دا زاړه به په اور ګرم کړو. ما او زمرک یو بل ته وکتل او مسکي شو. زمرک ورته وویل: تاسو دې ته کارتوس وایئ؟! هغه وخندلو ویل یې: ولې تاسو یې کارتوس نه بولئ؟! زمرک ورته وویل: نه، د ننګرهار خلک یې مسالې، بیټرۍ یا بالټۍ بولي. په پېښور کې ورته سېلونه وایي. حجره کې ناستو خلکو ته دا نومونه عجیبه وو، وېې خندل. خو ستاسو نوم مونږ ژړا ته راوستي وو. هغه ځوان ترې په خپله لهجه پوښتنه وکړه چې هغه څنګه؟ زمرک ورته وویل: مونږ کارتوس د ټوپک ګولۍ ته وایو. ورته یې د مازیګر له راډیو خبره پیل کړه او بیا یې د حجرې او کارتوس ټوله کیسه ورته هغسې وکړه، څنګه یې چې احساس کړې وه. د کیسې په ختمېدو په حجره کې داسې یوه زوروره خندا خوره شوه چې تر اوسه راته یاده ده.» (پاتې شه باران دی، ۶۰.۵۹ مخونه). د واسع وېب ډاټ کام په سرمقاله کې لولو چې په پاتې شه باران دی کې «تلوسه په ټول ناول باندې خپره ده، خو په سر، منځ او پای کې ډېره پیاوړې تلوسه لري.» (۱۲)

د پاتې شه باران دی ناول جغرافیه تر یوه ځایه پېښور او تر ډېره ځایه د سوات او ننګرهار غرونه دي. نو ځکه په دې ناول کې د غرونو د ښایست او ځنګلونو انعکاس لېدل کېږي چې د ناول جغرافیا یې د لوستونکي لپاره جالبه او جذابه کړې ده. د سپین غره په لمنو کې د جغرافیې انځورګري داسې کوي: «مازیګر مازیګر یوه کلي ته ورسېدو. د لمر سترګه د یوې شنې ځوکې په نښترو کې داسې ښکارېده لکه ناوې چې شین شال پر مخ هوار کړی وي او زرینه ټیکه یې له حیا ډکې پلوشې شیندي. شپانه شپېلۍ په لاس له خپلو رمو سره د آبادۍ په خوا روان وو. د وړو وړو ورکیو د پښو ترپکې او د غرنیو ویالو نغمې یوځای کېدې، د تنورونو په پېروزه یې لوګیو کې تاوېدې، له هسکو ځوکو یې خولې اخیستې او په نامعلوم لوري یې خاموش پراوونه وهل.» (پاتې شه باران دی، ۶۲.۶۱ مخونه). د احمدي په وینا، د پاتې شه باران دی ناول «د لیکوال د نثر یو بل کمال دا دی چې ښه انځور لري او ځینې سیمې راپېژني.» (۱۳)

په پاتې شه باران دی ناول کې د شاعرۍ ښکلا هم لېدل کېږي او ځای په ځای په کې له صحنې سره برابر بیتونه راغلي دي. لامل یې دا دی چې د ناول اتل په ښوونځي کې له شعر و شاعرۍ سره مینه لري او تر دولسم ټولګي وروسته د کانکور له لارې د ادبیاتو پوهنځي ته ځي. د شاعرۍ د بېلګو لپاره لومړی پام هغې ولسي سندرې ته اوړي چې ځای په ځای په ناول کې مخې ته راځي:

دا چار چاپېر په غرونو راغلل بارانونه یاره،

رڼې وربرېينه،

مه ځه، دلته شپه وکه، پاتې شه باران دی!

په ناول کې پر پورتنۍ فوکلوريکې سندرې او ځينې لنډيو سربېره، د ځينې لرغونيو او اوسنيو شاعرانو بيتونه هم راغلي دي او پاتې شه باران يې لا پسې ښکلی کړی دی.

فلسفه بل هغه يو ارزښت دی چې د دې ناول په ترڅ کې ځای پر ځای مخې ته راځي او دا کومه تصادفي خبره نه ده. د ناول اصلي کرکټر په ښوونځي کې د فلسفې کتابونه ګرځوي او نور زده کوونکي هم پرې خبر وي. کله چې غزن او زمرک له پېښوره ننګرهار ته روانېږي، نو د خيبر په غرونو کې د غرونو په جلال او جمال خبرې کوي چې د ښکلا د فلسفې مفاهيم دي: «څو شيبې پس موټر حرکت وکړ، لږ خت پس فلاينګ کوچ موټر د خړ خيبر په کږلېچونو کې روان و. زمرک مې د خيال لړۍ غوڅه کړه او راته يې وويل: خيبر هم دنګ غرونه لري، خو کاش چې د سوات د غرونو په څېر شنه وای. ما ورته وويل: ګرانه به وي چې د سوات غرونه له خيبر غوره وګڼم. فطرت بايد زموږ ټولې جذباتي، تخيلي، ورغتيايي، روايتي او ان روحاني غوښتنې پوره کړي. خيبر پر خپل ځای پوره اهميت لري. د دې په تورو کاڼو کې چې د لرغونو فاتحينو د ښويېدلو نيليو د نالونو کوم نقشونه پاتې دي، د نړۍ مؤرخينو ته د هلال حيثيت لري- د هغه هلال چې د ماضي د ماښامونو لاره ورته معلومه ده. خيبر د يو ستر قامي روايت امين هم دی او اوس خو په دې غرونو کې د ستر حمزه سندرې هم غزونې کوي، خو ته به واېې چې ما د سوات او خيبر ښکلاييزه پرتله کوله. که داسې وي نو زه د سوات ښايست هم له خيبره ډېر نه ګڼم. د کشمير رنګې سوات شوخ شينوالی د جمال ترې ذوقونه تازه کوي. دلته هيبت، لوړتيا او ټينګوالی د جلال ترې ذوقونه اوبه کوي او روح د حيرت په وزرو د يو نامعلوم ښايست په لور په پرواز راولي.» (پاتې شه باران دی، ۵۵ . ۵۶ مخونه). د خپروندوېې ټولنې په يادښت کې راځي چې په پاتې شه باران دی ناول کې: «د ښکلا له لويو سرچينو ګڼه اخيستل شوې، له موسيقي اغېز اخيستل شوی، د شاعرۍ خوند لري، د طبيعت ښکلا هم په کې ده- تر دې چې د فلسفې څرکونه هم د دغه کتاب په ټولېز ښايست کې ځای لري.» (۱۴)

پاتې شه باران دی ناول د مهاجرت او جهاد د ادبياتو يوه بېلګه ده. اصلي کرکټر غزن د اسلامي ارزښتونو په جامه سنبال دی. تر دې چې کله د سپين غره په لمنو کې له دې خبر شي چې څانګه يې پلار د ولور په لالچ کې يوه بوډا بزګر ته واده کړې، نو سخت ناروغ شي، خو بيا هم د سهار لمونځ نه پرېږدي او په ناسته يې کوي. دغه راز، په توره بوره کې د شهيدانو له هديرې لوی پيغام اخلي او شهکاره انځورګري کوي: «نور مې پام د خوړ په اوبو د شهيدانو زيارت ته اوښتی و. د ډيوو په رڼا کې د جنډو رنګونه داسې ښکارېدل لکه له ډېر لرې ځايه چې سرې درنګارنګ ګلونو ټل ګوري. نرۍ هوا د ډيوو لمبې داسې کږولې لکه د مستو جينکو ډله چې د آزادۍ جشن لمانځي او د خپلو ځوانيو په ټول زور سره نڅېږي. بله خوا، جنډو د درې په سپېڅلې فضا کې راګ خپراوه- د مراد راګ. ما له ځانه سره وويل: څومره د کار خلک وو دغه شهيدان؟! په ژونديو کې داسې خلک نشته، په يوه نوم او بل نوم

سره وژني، بېل شعارونه لري، خو دا شهیدان د بېلو ژبو ویونکي د جلا قومونو وګړي او د مختلفو ولایتونو اوسېدونکي وو چې ژوندي وو، یو مرام، یو شعار او یو یې سنګر و او اوس چې شهیدان شوي، د ټولو جنډو آوازونه یو راګ جوړوي- د اتفاق راګ- د آزادۍ او آبادۍ راګ!! ای کاش زموږ د هېواد وګړو غوږونه لرلی او دا له حکمت نه ډک سپېڅلی سندریز راګ اورېدای شوای!» (پاتې شه باران دی، ۶۳.۶۴ مخونه).

پاتې شه باران دی ناول درست سره غرونه غرونه دی. د غرونو یادونې ته هغه مهال صحنه جوړېږي چې د داستان په پیل کې یې د جغرافیا پر کتاب د بدخشان د غرونو عکسونه لګولي وي او څانګه هر وخت ورګوري. غزن نه پوهېږي چې څانګه ولې ورګوري؟! وروسته، دا غوټه پرانیستل شي چې څانګې به غزن ته نه، بلکې د بدخشان عکس ته کتل. یوه ورځ د ټولګي پر توره دړه غر رسموي، ښوونکی راننوځي، رسم خوند ورکوي، وایي: «غرونه د زلزلو مخه نیسي، کانونه لري، څړځایونه لري، ځنګلونه لري او ځنګلونه بیا د مېوې باغونه، د ځناورو کورونه، د مرغانو ځالې او نور ډېر څه لري. د باران اورښت ته لاره برابروي او د نېزونو مخه نیسي. خو په ټولو کې یې وروستۍ جملې خوند راکړ چې ویې ویل: غرونه او ځنګلونه د مځکې ګاڼه ده.» (پاتې شه باران دی، ۱۹مخ).

د سپین غره په لمنو کې هم د ځنګلونو د نه وهلو پیغام ورکړل شوی؛ په ناول کې لولو: «یوه مشر وویل، دوی ایله سږ کال سیل ته راغلل چې وچکالي ده. د ښار خلک آبشارونه خوښوي او اوس ډېر آبشارونه خاموش دي. واورې به وې چې ګټان ګټان به راښویېدې، خو سږ کال زمونږ د عملونو له لاسه د بزرګې څوکې مخ هم تور دی. ځنګلونه مو ووهل او په وړیا بیه مو وپلورل. مېوه دانه هم کمه شوې ده. تېره ورځ د شمشاد ملک په حجره کې جرګه وه، په غره وران شوي وو، د خدای فضل و، کور یې ودان، دواړو غاړو واک راکړ، لانجه غوڅه شوه. مونږ ټول مشران ناست وو، د کومې مؤسسې خلک راغلل، ویل یې: ځنګلونه مه وهئ! کېدی شي سږنۍ وچکالي له همدې کبله راغلې وي. ځکه چې چېرته ځنګل ختم شي، باران هم نه کېږي یا کم کېږي. مونږ یو بل ته وکتل، خو بې د لاسونو مروړلو راته څه پاتې وو؟! رښتیا، که دا وچکالي د غرونو د ځنګل وهلو له کبله راغلې وي، څومره لویه ګناه به مو کړې وي؟! خدای دې راته معافي وکړي.» (پاتې شه باران دی، ۶۴.۶۵مخونه).

د نجونو د تعلیم په باره کې هم په دې ناول کې مثبت پیغامونه راغلي دي. هسې خو نجونه په ناول کې زده کړې کوي، خو د ناول اصلي کرکټر څانګه د دولسم ټولګي نه تر فراغت وروسته تعلیم پرېږدي او کلي ته یې بیایي- دغه مهال غزن وایي: «عجیبه ده! زمونږ خلک د زوی د زده کړو لپاره د پلار نیکه هډوکي پلوري- ځمکې خرڅوي، خو د لور تعلیم شرم ګڼي. زه بېخي حیران یم چې دا خلک به کله له تعلیم سره آشنا کېږي او د حافظې پر تخته به دا جمله لیکي چې: ښځه هم انسان دی!» (پاتې شه باران دی، ۴۷ مخ). دغه راز، غزن چې کله له زمرک سره سپین غره ته ځي، د شپې له هغې ټریجیډۍ سره مخامخ کېږي چې ده یې تصور هم نه و کړی. زمرک وایي چې موږ په پېښور کې له کاینات لېسې فارغ یو. کلیوال ځوانان ورته وایي: «زلمي په هیجاني انداز وویل: کاینات لېسه؟! کاینات لېسه کې زما د ترور لور هم سبق وایه- څانګه نومېده. هغه د همدې ځای وه- د سپوږمۍ کلي وه.... هلک

خبرو ته دوام ورکړ: هغه هم څو میاشتې تر مخه فارغه شوه. دوه ورځې یې ډوډۍ ونه خوړه، ډېر یې وژړل، پلار ته یې همدا ویل چې زه نور سبق وایم، پوهنتون ته ځم. خو بدمرغه وه، نصیب نه و. د غرونو خلک جینۍ مکتب ته نه پرېږدي، پوهنتون خو ورته سور کفر ښکاري. مجبوري بده وي، د ولور په مینه کې یې د بنګزار کلي یو بوډا بزګر ته واده کړه. خوشحاله نه ده، څوک به څه ووايي، لکه وچه دړګۍ یې تناره ته وویشته!» (پاتې شه باران دی، ۶۶.۶۷ مخونه).

پاتې شه باران دی ناول په ۲۰۰۰م کال په پېښور کې لیکلی او په همدغه کال خپور شوی. په دې حساب، دغه ناول د مهاجرت او جهاد د ادبیاتو یوه بېلګه ده او د کډوالۍ څرنګوالی د جهاد روحیه ځنې جوتېږي. له ناوله ښکاري چې مهاجرو افغانانو د مهاجرت په دیار کې ښوونځي لرل او سبق یې وایه. آزادي یې لرله، سوات او نورو سیمو ته د چکر په مخه تلل. په روغتونونو کې یې وړیا درملنه کېده، پوهنتونونه یې لرل او لوړې زده کړې یې کولې. په دې ناول کې یو بل پیغام هم شته- د سپین غره په لمن کې یو غرنی کرکټر وايي: «د سره پوځ ټول فکر همدې غرونو ته و، ډېرې بمبارۍ یې وکړې، پوځونه یې راغلل، ډېرې کلاګانې یې وراڼې کړې، خلک یې شهیدان کړل او ځنګلي ونې یې وسوې. دا کلا هماغه وخت ورانه شوې، څښتن یې پېښور کې دی. څوک چې راغلي یا یې هجرت نه و کړی، کورونه یې جوړ او ځمکې یې آبادې دي. د مهاجروینو کورونه هماغسې ړنګ او پټي یې شاړ دي.» (پاتې شه باران دی، ۶۳ مخ).

هغه مهال او اوس هم په غرنیو سیمو کې روغتیايي اسانتیاوو ته د چا لاس نه رسېده یا ډېر کم رسېده، نو خلکو په طبي بوټیو درملنه کوله او لا یې کوي. دا دود په کار دي ژوندي وساتل شي. د سپین غره په لمن کې چې غزن ناروغ شي، یو کلیوال ورته وايي: «په داسې حالت کې خو دې ببخي نه شم پرېښودی، طبیب به درته راولم. زمونږ د غرونو له بوټو نه شه دارو درمل نشته، سمدلاسه به دې تک و پټری کړي.» (پاتې شه باران دی، ۶۷ مخ).

د مجاهدینو تر بري او د کابل تر جګړو وروسته، د پښتون، تاجک، هزاره، ازبک او نورو قامونو ترمنځ اختلافونه او توپیرونه پیدا شول چې دا د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوه زړه منفي او زړه ماتوونکې پدیده وه. په کور د ننه او بهر ځینې عناصرو او قدرتونو دې اور ته لمن وهله او ځینې روښانفکره لیکوالو د دې نوي سېلاب د مخنیوي لپاره د افغانانو ذهنونه روښانول او دا هڅه یې کوله چې د دې مرض د درملنې لپاره ادبي آثار وپنځوي. په پاتې شه باران دی ناول کې هم دغه مثبت پیغام ورکړی شوی: «لیلیې ته به زه او زمرک ډېر ځله یوځای تلو. یوه ورځ یې راته وویل: غزنه! ډېر بدل شوې- دومره بدل چې اوس دې زه هم نه شم بدلولی. خو یو بدلون درکې رانغی او هغه د بدخشان له تصویر سره مینه ده. په لېسه کې دې هم پر کتاب لګولی و او اس په پوهنتون کې دې هم پر کتاب لګولی دی. ومې پوښته چې ګنې دا ښه نه دی؟ ویل یې ښه دی، خو ډېره به ښه وای که د کومې پښتنې سیمې انځور دې پر کتاب لګولای وای. ما ورته وویل: ما د افغانستان ډېرې سیمې لېدلې، بدخشان لا پاتې دی. بس په انځورنو یې مینه ماتوم. ته خو تعلیم یافته یې، سترګور یې، داسې خبرې دې د وینا راښکون کموي. که افغانستان باغ بولې، ګلان به یې خامخا اقوام وي. بله دا چې د باغ ښادي هم یوه وي او غم یې هم. په سپرلي کې وغوړېږي او په خزان کې مړاوی شي.

یو سرحد ترې تاو وي او له یوې ویالې اوبه څښي. که د هر ګل رنګ بوی بدل دی، نو دغه بدلون او تغییر هم د نورو ګلانو وجود ورکړی. که یوازې په صحرا کې وای، چا سره به یې ځان پرتله کاوه؟ څنګه به یې د پېغلې په اوربل ځانګل؟ او څنګه به شملې ته خاته؟ زمرکه! په یوه ګل نه پسرلی کېږي.» (پاتې شه باران دی، ۵۰ مخ). تر دې وروسته هم دا بحث روان دی او ډېرې د کار خبرې په کې شوې دي- د پاتې شه بارن دی مینه وال یې په کتاب کې لوستی شي.

طبیبان وایي چې په چکر وتل او په تېره زرغونو او سمسورو سیمو ته تلل د رواني رنځورانو پر صحت و سلامت ګټور اغېز لري. غزن هم چې په پېښور کې ناروغ شي، ډاکټر ورته د شنو غرونو رغونو د منظرې سپارښتنه کوي چې یو روغتیایي پیغام دی: «ډاکټر زمرک ته ورمخ کړ او وې پوښته: ته د غزن څه یې؟

- ډاکټر صاحب له ډېرو کلونو راهیسې مې نږدې ملګری دی.

ډاکټر سر وخوځاوه، په لاسونو یې خپلې عینکې سمې کړې او له زمرکه یې دویمه پوښتنه وکړه: د غزن شوقونه څه دي؟ هغه ورته وویل:

- ډاکټر صاحب، اوس خو یې همدغه یو شوق دی: سوچونه کول.

ډاکټر وخندل او وې ویل: له دې شوقه وړاندې یې د څه شوق درلود؟

- ډاکټر صاحب! وړاندې له دې یې کتاب، رباب او غرونو سره شوق و او یو بل زورور شوق یې هم درلود!

ډاکټر وویل: زه وپوهېدم، د کورنۍ له غړیو سره یې خبرې وکړه، ته یې نږدې ملګری یې، ښه به همدا وي چې د رباب او کتاب سره دوه په دوه د کومې غرنۍ سیمې سیل ته ولاړ شئ، ګوندې دا تجربه یې په روغتیا ګټوره اغېزه وکړي!» (پاتې شه باران دی، ۵۳ مخ).

له پورتنیو پیغامونو جوته ده چې پاتې شه باران دی یوازې د مینې کیسه نه ده، د ژوند لپاره د ادب یوه بېلګه هم ده. له دې کبله چې پاتې شه باران دی یو ټریجیډي ناول دی، نو اغېز یې ډېر ژور دی. د ناول آخر داسې دی چې غزن په یوه غره کې غلې یوه سندره اوري او چې ګوري ځانګه وي او خپل بوډا مېړه پسې وهل شوې ځانګې ټولوي. غزن پر یوه کاغذ لیکي: ځانګې، همدغه سندره یو ځل زما لپاره ووایه! کاغذ د لارې پر سر ږدي او چې ځانګه یې وګوري، خط یې وپېژني چې د غزن دی، یوه خوا بله خوا لکه د لېونۍ منډې ووهي او په سندره شي:

د ا چارچاپېر په غرونو راغلل بارانونه یاهره،

رڼې وربرېینه،

مه ځه، دلته شپه وکه، پاتې شه باران دی!

يو ځوان چې تبر ورسره دی او ښانګې وهي، خپل تبر په لرګي کې ښخ پرېږدي، وايي لکه د سندرې ګناه چې خوند ورکړی او چې سندره خلاصه شي، نو ښانګه به د ثواب په نيت اندام کړي. غزن له سندرې سره رباب غږوي او نتيجه يې دا شي چې: «له سندرې سره کايناتو نڅا کوله، زما په سر هم چکر راغی، د غره نښترو اتڼ کاوه او هسکې څوکې نڅېدې. په ځان نه پوهېدم چې د رباب سره څه کول، ايله بس دومره پوه شوم چې د رباب تار وشلېده او په سترګو مې تياره شوه او چې بيا مې سترګې وغړولې، نو پېښور کې د خيبر هسپتال په ايمرجنسي وارډ کې زمرک او څو تنه ډاکټران زما سر ته ولاړ وو.» (پاتې شه باران دی، ۷۱ مخ). يعنې، په ناول کې نه ښانګې او غزن واده کړی او نه مړه شوي چې دا د ډرامو او ناولونو کليشه يي انجام دی. دلته د لوستونکي تخيل ته لاره پرانيستې پرېښودل شوې چې پخپله فکر وکړي چې هغه د تبر خاوند به ښانګه وژلې وي، که ژوندی به وي؟!

يوه خبره چې بايد يادونه يې وشي، دا ده چې غزن او ښانګه په پېښور کې په کاينات لېسه کې زده کړې کولې، خو هغه مهال په پېښور کې داسې لېسه نه وه چې نجونې او هلکان دې په کې په ګډه زده کړې وکړي. خو د جمهوريت پر مهال په کابل کې هم د کاينات لېسې په نامه لېسه جوړه شوه چې نجونو او هلکانو په کې يوځای زده کړې کولې. د دې لېسې ښانګې د سيد نورمحمد شاه مېنې په ګډون په ځينو نورو سيمو کې هم شته.

د پاتې شه باران دی ناول په آخر کې د دې ناول د لسګونو لوستونکيو تأثرات او تجربې درج دي. د دوی په تأثراتو کې راغلې دي چې: دغه ناول خپل لوستونکي مطالعې ته هڅولي، زلمي لوستونکي په کې زياتره ځانونه ګوري. د لوستلو پر وخت يې بنيادم ته ژړا ورځي، له هرې صحنې سره يې زړه نرۍ نرۍ خوږېږي. بيا بيا يې د لوستو تنده لري او خپلو نورو ملګريو ته يې هم اخيستی او يا يې ورته لوستی او اورولی. تر ټولو لويه ځانګړنه يې تلوسه ده. جغرافيه او فضا يې په زړه پورې ده او مکالمې يې خوږې دي. د دې ناول له کبله يې ليکوال د دوی ايډيل شوی، فکر کوي چې ګنې د دوی د ژوند کيسه يې کړې ده. لوست يې چا ته د ستړيا احساس نه ورکوي. د هيجاني صحنو پر جزيرو يې ګرځوي. ښکلې، ښايسته تصويرونه يې د لړزندې مينې لوړې ژورې شيبې ورباندې راولي. تلوسې پسې تلوسه ده په کې. کاشکې د غزن روغتون ته له رسېدو وروسته ليکوال د دې ناول بل ټوک هم ليکلی او خپور کړی وای چې پوهېدلی وای نور څه وشول؟! ټوله کيسه يې د ژوند تجربه ده: کډوالي، د ژوند ورکه او نورې ډېرې خبرې په دې ناول کې کتلی شو. د کليوالي ژوند، ښې بدې خاطرې ذهن ته وروي. د نورو ناولونو له لوستلو سره د بنيادم مينه پيدا کوي. د کرکټرونو نومونه يې ډېر ښکلي دي. تر همدغې سندرې هم خوندور دی چې وايي «مه څه دلته شپه وکه، پاتې شه باران دی». عجبه جادوګري په کې شوې ده. په کيسه کې د مهاجرو د ښوونځيو دې حال احوال، چې خونې به يې په باران کې څڅېدې، کټ مټ خپل ښوونځی ورياداوه. د لوستو په وخت کې يې د سپين غره بزرګې څوکې ته وروستی دی. يو شهکار اثر دی. نورو ژبو ته اړونه غواړي.

دغه راز، لوستونکيو د دې ناول په باره کې خپلې فردي تجربې هم بيان کړې دي، وايي:

- په کومه شپه چې یې دا ناول لوست، باران اورېده، یوه ځای ته په کې ورسېده چې وایي: «لیک مې لوست، جونګړه څڅېده. ژر مې د خپلې کوټې چت ته وکتل چې راسورۍ شوې خو به نه وي؟!»
- د ځانګې نامه وربانديې دومره اثر کړی چې اوس پخپله د ځانګې پلار دی.
- یوه ملګري یې ورڅخه وړی و، بېرته یې د کتاب شلیدلې پاڼې ورته په کڅوړه کې راوړې وې، نور نو خفه ولاړ و، بخښنه یې ځنې غوښته! ویل یې: پام یې نه و، تر لوستو وروسته یې له واره وشلاوه!
- د دغه ناول لوستلو سره په تشویش کې شوی، په کټ کې ناست دی، ورور یې ورغلی، د ډوډۍ یې ورته ویلي چې تیاره ده! ورپورته شوی، د خولۍ پوښتنه یې کړې چې څه شوه او چېرته ولاړه؟ غصه دی، ورور یې ورته ویلي چې خولۍ یې پر سر ده- هیچرې نه ده تللې!
- ژمی دی، ساړه دي، دومره یې په مطالعه کې غرق تللی، چې ساړه یې هېر دي.
- دغه ناول اوس هم ورسره په الماری کې ایښی.
- د لوستلو په وخت کې یې داسې احساسوله چې د کوم ۴۰ انچه ټلویزیون مخې ته ناست دی او د خپل ژوند د کومې رنګینې شیبې په ننداره دی.
- داسې احساسوي چې ګواکې پخپله د کیسې د کرکټرونو ټولګیوال دی او د کیسې هره یوه صحنه یې تر دې وړاندې لا لیدلې دي.
- کله چې چا د ښه ناول پوښتنه ځنې کړې، د همدې ناول پته یې ورکړې ده.

له برنیو ټولو ښېګڼو سره سره، څرنګه چې ګل بې خاره نه وي، پاتې شه باران دی ځینې نیمګړتیاوې هم لري؛ مثلاً: د کرکټرونو د وینا سټایل یو ډول دی، د هر یوه ژبه شاعرانه او انځوریزه ده. ځانګه چې خاوند یې هم ورسره دی، د غزن د خط په لېدو د ځینې هندي فلم د اتلې غونډې د رباب له نغمې سره یو په سندره کېږي او سندره وایي!

په آخر کې خپله لیکنه د همدې ناول په باره کې د کیسه لیکوال او نقاد نصیر احمد احمدي په یوه خاطره راغونډوم؛ هغه وایي: «موږ اته تنه ملګري په یوه اپارتمان کې د مساپرۍ ژوند تېروو. کورونه مو په ولایاتو کې دي، خو په کابل کې وظیفې لرو. هر یو په سهار اته بجې په خپل کار پسې ځي او مازدیګر بېرته سره یوځای کېږو. د شپې تر ناوخته ویښ یو. څوک خبرې کوي، څوک ټلویزیون ګوري، څوک څه لیکي او ځینې هم د مطالعې شوقیان دي. څه موده مخکې آشپز د ماخستن ډوډۍ تیاره کړه، ملګري په دسترخوان سره راټول شول، خو زما د کوټې ملګری لا نه و راغلی، ورغږ مې کړ. له یو څه ځنډ وروسته راغی، درې څلور ګولې یې ورپورته کړې او بېرته ولاړشو. ما د ډوډۍ د خوړلو ورته وویل، خو ده رایاده کړه چې یو کتاب یې موندلی او لولي یې! حیران شوم، ځکه ده دومره کتاب نه کوت او له مطالعې سره یې نه وه جوړه. کله چې ماخوستن ناوخته خپلې کوټې ته راغلم، ملګري مې لا کتاب سترګو ته نیولی و- پاتې شه باران دی! لیکوال مصطفی سالک. ملګري مې راته وویل چې دا کتاب تر اوسه

درې ځله چاپ شوی دی. ما دا کتاب تر دې دمه نه و لوستی. د کتاب لوستلو ته مې تلوسه شوه. ځکه مورِ داسې لږ کتابونه لرو چې دوه درې ځله دې چاپ شوی وي. له نېکه مرغه، سبا ته جمعه وه، ما هم کتاب راواخیست، په یوه ساه مې ولوست او په دې وپوهېدم چې دا کتاب په بیا بیا چاپېدو ارزي.» (۱۲) (۱۶)

**ماخذونه**


(۱) شمیسا، سیروس. انواع ادبي (یرایش چهارم)، چاپخانۀ تابش، چاپ چهارم، نشر مترا، تهران، ۱۳۸۹، ص ۱۶۴.

(۲) سالک، مصطفی. پاتې شه باران دی. دانش خپرندویه ټولنه، اسد دانش مطبعه، کابل، ۱۴۰۲ل، ۳ مخ.

(۳) احمدي، نصیر احمد، وګورئ: https://www.tolafghan.com/articles/7406

(۴) برنی حواله وګورئ!

(۵) برنی حواله وګورئ!

(۶) پاتې شه باران دی، ۶ مخ.

(۷) بصیرالحق عادل، وګورئ: https://www.nunn.asia

(۸) پاتې شه باران دی، ۳ مخ.

(۹) یوسفزی، سحر. ادب څه دی؟، دویم چاپ، پرنټنګ کارپوریشن آف فرنټیر لمټېډ، پېښور، ۱۹۸۰ع، ۱۶۲مخ.

(۱۰) انواع ادبی (ویرایش چهارم)، ۱۷۴ مخ.

(۱۱) عمر، محمد آصف. ښه ناول وپېژنئ، مازیګر کتاب پلورنځی، جلال آباد، ۱۳۹۴ل، ۷۸ مخ.

(۱۲) عادل، بصیرالحق، وګورئ: https://wasiweb.com

(۱۳) احمدي، نصیر احمد، وګورئ: https://www.tolafghan.com/articles/7406

(۱۴) پاتې شه باران دی، ۳ مخ.

(۱۵) احمدي، نصیر احمد، وګورئ: https://www.tolafghan.com/articles/7406